محب‌الله زغم
۲۰۲۳/۰۷/۰۱

# خاني چمونه

ځو ورځې د مخه مې يوه ملګري په دوه ويشت زره ډالرو باندې لوکس موټر واخيست. هغه په يوه ان جي او کې کار کوي چې د مياشتې دوه زره ډالره تنخواه اخلي. له پلار او نورو ورونو سره په يوه کور کې ژوند کوي. ورونه يې هم ودونه لري، هر يوه ته يوه يوه کوټه رسېدلې ده. که مېلمه ورشي، نو د شپې ځای به په سختۍ سره ورته پيدا شي. دغه انډيوال مې د کور د اخيستلو په فکر نه دی. ګومان کوم چې هغه به ګران بيه موټر ځکه اخيستی وي، چې خپل د خانۍ هوس ورباندې ارضا کړي، که نه نو د ضرورت د رفع کولو لپاره خو دغه نور عادي موټرونه هم کار ورکوي.

يو وخت مې يو بهرنی غټ جنرال وليد، چې له الوتکې کوز شو، بېګ يې په شا اچولی او په لاس کې يې بکس نيولی و. ها خوا ته افغانانو په ډګر کې د کيك او بسکيټو پوښونه او د سګريټو فيلټرونه اچولي وو. بهرنيان د هغوی په راټولو لګيا شول، مشر او کشر په کې نه و معلوم، ټولو په ګډه کار کاوه. د هغوی په ليدو مې خپل منصبداران رایاد شول. دوه ويشت کاله مخکې د حربي ښوونځي قومندان يو جنرال و، هغه به چې هر چېرته ته، د يادښت کتابچه، قلم او د سګريټو ډبې به يې ياور ورسره وړل. د ياور رتبه يې تورن و. قومندان به چې سګريټ څکول؛ نو سګريټ به يې په خوله کې ونيو او ياور به يې لايټر ورته بل کړ. دا هم د خانۍ چمونه دي.

زموږ د ډاکټرانو او نرسانو تر منځ تل کشمکش وي. نرسان به ځکه له ډاکترانو سره نه جوړېږي، چې د حقارت احساس به کوي. په وروسته پاتې ټولنو کې کسب او مسلك په شريف او نا شريف او يا په بله وينا په وياړمن او بې وياړه ډولونو سره وېشل شوي دي. په غربي ملکونو کې د ښاروالي کارکونکی هماغومره محترم ګڼل کېږي لکه د پوهنتون استاد، لکه جنرال، لکه ډاکتر او لکه بل هر څوك. هلته انسان د هغه د انساني کرامت په خاطر د درناوي وړ بلل کېږي. هلته ډاکتر يوازې په روغتون کې ډاکتر وي، په کور کلي کې يې يوازې نوم اخيستل کېږي، ورسره ډاکتر پلاني نه ويل کېږي. خو دلته هر څوك دا غوره ګڼي چې له خپل نامه سره ډاکتر، انجنير، قاضي، استاد، مولف ... وليکي. دلته ډاکتر بايد دومره کبرجن واوسي چې له نرسانو سره په ورين تندي خبرې ونه کړي او نرسان هم په کارونو کې د ناغېړۍ او د ډاکترانو په غيبت سره خپل حقارت جبران کړي. دغه د ډاکترانو کبر د خانۍ د هوس بل ډول دی.

استاد ګل پاچا الفت ويلي وو، موږ په خپل راحت نه خوشالېږو، بلکې د بل په زحمت خوښېږو. سپور په دې نه وي خوښ چې دی اس لري، هغه په دې خوشاله وي چې نور پلي دي. دا خبره هغه وخت رايادېږي، چې په کچه لارو باندې ګاډي چټك تېرېږي او دوړې بادوي. د لوکسو موټرونو خاوندان به هم په دې خوښېږي چې لمر وهلي لاروي په دوړو کې پټېږي؛ خو دوی په بندو شيشو موټرو کې اېرکانډيشنر ته ناست وي.

ما ډېر خانداني شتمن ليدلي دي، چې ډېرې پيسې به لري؛ خو خاکسار ګرځي او باډيګارډ ورسره نه ګرځوي؛ خو داسې نوکيسه کسان هم پېژنم چې پيسې يې هومره نه دي، خومره چې دوی يې په لرلو تظاهر کوي او بې له باډيګارډه تشناب ته هم نه ځي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ